


د فضلیار لومړنی غزل ټولګه

Download from:aghalibrary.cm



د فضلیار لومړنی غزل ټولګه

Download from:aghalibrary.cm



په انټرنیټ کې په لیکه کوونکی :

سمسور حبیبي



د فضیلت لومړنی غزل قولکه





د فضلیار لومړنی غزل قولګه



د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: په سترګو کې خبرې
شاعر: فضل هادي (فضلیار)
خپرونکی: مومند خپرندویه ټولنه
کمپوزګر: محمدحسیب (انوري)
ډیزاینګر: نجیب الله (نایل)
د پښتې او انځورونو ډیزاین: لمر (ککړکی)
د چاپ زیار: شریف الله (ناصري)
د چاپ شمېر: ۲۰۰۰ ټوکه
د چاپ کال: ۱۳۸۶ لمریز



د فضلیار لومړنی غزل ټولګه

د ګران فضلیار

غزلیز نوښتونه

ځینې خلك په دې عقیده ښکاري، چې خپل کلتور او مقدساتو ته سپکاوی او یا ستغې سپورې په ادب کې بغاوت دی، او په دې ډېر خوښ وي، چې د باغي شاعر او لیکوال په نوم وپېژندل شي. حال دا چې د ادب ژبه د هنر ده، او هنر له ښکلا پرته بل انځور نه لري. په سپکو او سپورو کې به جذبه وي، خو هیڅکله ورته فن ویلی نه شو، او نه ښکلاییز ارزښت لري. دغه ډول شعرونه په اصل کې له فکري او ایډیالوژیکي ستونزو نه زېږېدلي ښکاري، او ادبي بغاوت نه دی.

شاعرانه بغاوت به هم له ښکلا او هم له هنره ډك وي. د ښلګې په ډول د شیخ متي بابا نظم د نصر لودي او شیخ اسمعیل د منظومو په وړاندې یو ادبي بغاوت دی. ځکه شیخ بابا په کایناتو کې د لومړي ځل لپاره په سیستماتیك ډول د جمال مشاهده تر سره کړې، او نظم یې له ستر مولانا رومي (رح) سره په سیالۍ د لاهوت په لور په الوت دی. همدارنګه خوشال بابا او بیا ورپسې استاد حمزه درواخله.

خبره به نه اوږدوم، زمونږ د ځوانو شاعرانو ترمنځ د ښاغلي فضلیار غزلیز نوښتونه ماته یو ډول ادبي بغاوت ښکاره شو، په



د فضلیار لومړنی غزل قولګه

دې ډول چې نه يې روايت تېر او تکراري سمبول ګڼلی، او نه يې په فکر د فن ملا ماته کړې، هر خيال ته يې د هنر د ښاپېرو لباس وراغوستی، خو دا فېشن او ارآيش هيڅکله هم پردی نه ښکاري، او نه د چا تقليد دی.

لار يې بېله او ځانګړې ده، له داسې يوه تشخص سره روان دی، چې د پښتون فطرت د رومان پالنې د ستر ذوق استائي کوي:

(د تروو اوبو ماهی) به دومره د چا خوښ نه شي، او نه دغه ترکيب په رومبيو کې خوږ لګي، خو چې کله ورته شاعر په خپل شاعرانه منطق رنګ اميزي ورکوي، او تصوير ترې جوړوي، کټ مټ د (زشت و زيبا) ادبي صنعت تر پولو رسي:

ته د تروو اوبو ماهی يې د جانان انځوره!
تل مې د سترګو په رانه سمندرګي کې اوسې

او تر دې يې دغه بل انځور لا ښکلی ښکاري، چې ملي احساس يې هم بدرګه کوي:

د يار وصاله ته هم سم د خپلواکۍ غوندې يې
ماته، کې نه ښکاري په سوري د بري کې اوسې

او که د همدغه غزل په يوه بل بيت کې يې د (کم عقلې) خطاب نه وی، نو زما غوندې خوش باورو خلکو به په څه ناڅه ډول د عرفان د وجودي تګلارې لاروی ګانه:

نورو نه ولې ستا پوښتنه وکړم وه کم عقلې
ته خو هر وخت ګوره زما پخپل زړګي کې اوسې



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

د کره کتنې په نیت نه خو د نظرماتي په دود به ددې ښکلې غزل یو بل بیت هم په ننبه کړم، چې د جانان خیال پکې له مضر چینجي او سر له وچ لرګي سره تشبیه شوی، چې د شعري توکو له مخې هیڅ ارزښت نه لري، خو څرنګه چې د ښاغلي فضلیار له شاعرانه برلاسۍ او لوړ استعداد نه ښکاري، په ډېرې لږې پاملرنې دغه ستونزه حل کولی شي، او ما ورته هغه د چا خبره ځکه وریاده کړه، چې ډېره ستاینه یې همدلته بریك نه کړي، پرېږده چې نور ښه نوښت رامنځته کړي، او دا الهي (ج) قانون هم دی، چې کاینات یې په یو ځل بشپړ او سالم نه دي را استولي، ځکه بیا به زمانه د خلاقیت له جوهره بې برخې شي.

د بل هر لوړ او بااستعداده ویناوال غوندې ښاغلی فضلیار د خپل ځانګړي فطرت له مخې مشخص تشبیهات، استعاري او نومونې لري، چې دده تصویرونه یې ګڼلی شو، داسې نه ده، چې د نورو پخوانې او زاړه نوښتونه یې کارولي، چې د شاعرۍ د سقوط نښه وي، همدغه یې ماته یو ادبي بغاوت او یا نوښت ښکاري:

راشه چې خپل کلي کې سندري درته ووایم
ته په بازارونو کې شغاړی د چنار غواړې

***

یو وخت به ددې خاورې شهیدان ټول راژوندي شي
یو وخت به زمونږ سترګې بیا غړیږي دوی ته څنګه

د فضلیار شاعري په مجموعي ډول د انځور په برخه کې له ښکلو تشبیهاتو او استعارو نه سرشاره ده، او زیات وخت دغه تشبیه په تمثیل هم اوړي:



د فضلیار لومړنی غزل ټولګه

وايي زما مينه به خپل زړګي کې پټه ساتې
دا ساده ګله رانه لپه کې درياب غواړي

***

ستا لومړی خندا شپېلی د اسرافيل وه
يو ځل بيا وخانده شاباس چې ژوندی شم

(په سترګو کې خبرې) غزل ټولګه چې له سره تر پايه وکتل شي، هر ځای پکې فضليار د يوه پښتون او سپيځلي ګروهمن په توګه ځپاند دی، شاعري يې دومره سپېځلې ده، چې د تقليد بوی هم نه لري، داسې نه ده لکه څو تنې او يو سر.
په شاعری کې يې ټولنيز ارزښتونه، مقدساتو ته درناوی په لوړه هنري ژبه تر دې حده دی، چې د خپلې ټولنې عکاسي او انځور يې ګڼلی شو. د پټمن ملت تشخص، د ازادی جذبه او د يرغلګرو ماتې پکې د يوې حماسې په ډول په څپو دي.
زه په پای کې دغه ژور فکر په لالړ خيال ښکلی غواړم، او ګران فضليار ته له لوی خدای (ج) نه د خوشال بابا د (پښتون) او د شاعر اسلام علامه اقبال د (مرد کامل) جوړېدو دعا کوم.

په شاعرانه ولولو

ناکام

پوهنتون مېنه
۱۳۸۶ | ۵ | ۳۰



د غزل پېغلو مانو ورته لوګی کړی

د سترګو شاعر (فضل هادي فضلیار) په ۱۳۷۹ لمریز لېږدیز کال، د ننګرهار په عالي لېسه کې زما د دولسم ټولګي زده کوونکی و. د وطن په حساب مې هم ورسره اړیکې درلودې او د خوږو اخلاقو خو به یې څه نه وایم.

خدای شته چې هاغه مهال یې پر شاعرۍ خبر نه وم خو شعر یې لکه چې پټ لیکه ، ځکه د ډېرو نورو پښتنو په څېر، دده په مالت کې هم دې هنر ته په درنه سترګه نه کتل کېږي. خو اوس پوه شوم چې فضلیار لا ډېر پخوا د هنر د کلي په کوڅو کې د غزل وظیفه ټوله کړې ده.

ما چې دده نوښتګره، خوږ ژبې او غزلبوله شاعري ولیده، نو حیران شوم چې زما مات او ګوډ قلم به کله دومره توان ولري چې د فضلیار غوندې ځلمي په تانده شاعرۍ هنري او ادبي لیکنه وکړي.

فضلیار د ځینو نورو ځوانو شاعرانو په څېر بې دانو بوس نه دي باد کړي ، او نه یې هم اسمان د خیال په تیګو ویشتی.

هغه هر څه ته په خپلو شوخو هنري سترګو کتلي او هماغسې انځورونه یې تري اخیستي. د خیالي نړۍ د ترخو اوبو په سیند کې یې لامبو نه ده وهلې ، بلکې ځان یې د شعر د خواږه اباسین تل ته رسولی او اصیلې ملغلرې یې ترېنه راوېستي دي.



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

د فضلیار شعر اخلاقي، ديني، ټولنيز، پښتني، ملي او حماسي ښېګڼې لري. د نکريزو، سرو شونډو، شنو خالونو، بنګړيو او .... په بازار کې ډېر نه دی ګرځېدلی. هغه هر څه ته د حقيقت په سترګه کتلي او هغه يې د ريالېزم د سروزرو په تله تللي دي.

د فضلیار د نقادی ژبه اورونه بلوي ، او لکه د څېړيو د سکروټو غوندې سرې سپرغی بادوي. شعر يې د خوشحال خان د حماسو رنګ لري. خوشحال بابا وايي:

ځو وانخلي له غليمه انتقام
مرد نه خوب کا نه خوراک کا نه ارام

د فضلیار لاندې بيتونه وګورئ:

خپلواکي مې د خپل قام راځخه غواړي
له غليمه انتقام راځخه غواړي
باغي روح مې د بدن قفس کې تنګ دی
د وحشت پر ضد قيام راځخه غواړي
تر پايه....

د شعر ژبه يې ډېره سپېځلې، ساده، روانه او رېښه ده؛ او د نورو ژبو له اغېزه يې د غزل جامې پاکې ساتلي دي.

فضلیار که څه هم د عمر زيات کلونه په کوزه پښتونخوا کې تېر کړي خو د هنر خوله يې په ببلمازه اوبو نه ده کنګال کړې.

شعر يې د بديع او بيان په هنري او ادبي صنعتونو داسې پسوللی، چې سړی ورته ګوته په غاښ پاتې کېږي. د ښه تکړه انجينر او معمار غوندې يې د تشبيې، استعارې او کنايې خښتې په خپلو ځايونو لګولي او د غزل رنګينه مانۍ يې ورځخه جوړه کړې ده.



د فضلیار لومړنی غزل ټولګه

فضلیار کشر هلک دی ، خو په غزل کې یې د ډېرو مشرانو پر پلونو پل ایښی ، حیران یم چې دا الهام ورته له کومو غرونو د غزل ښاپېریو راوړی دی. وګورئ ، په لاندې غزل کې د کاظم خان شیدا غوندې ښه پوهېږي خو دار ته په ډېر ویاړ روان دی.

کاظم خان شیدا وایي:

هسې نه چې دار محروم په میدان پرېږدې
که یو سر په تن لرې بلند همته

فضلیار صیب هم ورسره مناسبه سیالي کړې ده ، دا وایي:

ښه پرې پوهېږم چې مې سر په لور د دار روان دی
خو بیا هم شکر دی چې ستا د عشق پر لار روان دی
وطنه! ستا مینه کې ځینې له سرونو تېر شول
د ځینو نورو په همدې نوم کاروبار روان دی

زه ورته دا بیتونه ډالۍ کوم:

داره جنازه مې درنه ونه کړې
ځورند تر قیامته داسې ښه یمه
پاتې که دا زوړ ګرګین له مانه شو
زه به له میرویس نیکه نه نه یمه

فضلیار په پورته غزل کې خپله ایماني او افغاني دنده په خومره بریالیتوب سره سرته رسولې ، او هنري ارزښتونه یې خومره خوندي ساتلي دي. خپل سر د وطن له مینې قربانوي او



د فضلیار لومړنی غزل ټولګه

دار ته په خوشالۍ روانیږي، خو د وطن خرڅوونکو او بې ننګو دلالانو له مخونو څخه پردې پورته کوي او راتلونکي نسل ته یې ورپېژني.

زما په اند فضلیار د شعر خپل ځانګړی سبک او بڼه لري ، چې هغه له نورو څخه بېلوي. د هغه د شاعرۍ یو څو ځانګړنو ته په لاندې ډول ګوته نیسم:

د فضلیار له شعر نه معلومیږي چې د افغانستان د نورو سیمو لهجې او ګردودونه یې زده دي ، او په بېلا بېلو پښتنو سیمو کې راته بلد ښکاري.

نور سختې دلته شپې شوې له دې کلي کډه وړم
ترخې د ژوند شیبې شوې له دې کلي کډه وړم
د ژڼو ګلالۍ څېرې سپېرې شوې فضلیاره
شروع پکې نشې شوې له دې کلي کډه وړم

په پورتنۍ بیت کې د (ژڼې) یا د جمعې په بڼه د (ژڼو) کلیمه د هېواد په جنوبي سیمو (پکتیا ، پکتیکا او خوست) کې مروجه ده. ده کمال کړی چې د نورو لهجو رواجولو ته یې هم پام کړی او خپل غزل یې پرې رنګین کړی دی. په لاندې غزل کې یې کندهاری لهجې ته پام وکړئ:

کندهاري یاران چې کله راپه زړه سي بارا
په هغه دم مې نو زړګی ذره ذره سي بارا
ژبه مې ګونګه سي بیخي غزل ویلای نسم
خو چې تا ووینم غزلې راشېوه سي بارا
تر پایه....



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

همدارنګه په لاندې غزل کې يې د کوزې پښتونخوا د پښتنو لهجه راخيستې ده:

هر وخت په کې ملګرو شور ماشور غونته کې دی
دا زړه مې بس د څو شوخانو کور غوته کې دی
سهار نه تر مابنامه مې په ژبه ستا نامه وي
هر لفظ يې په ايمان د ټنګ ټکور غونته کې دی
تر پايه...

همدارنګه د فضلیار بله بڼه برلاسي په شعر کې داده ، چې مهمل الفاظ يې په ډېرو مناسبو کليمو پسې ترلي او د خپل غزل مقام يې پرې لوړ کړی:

نه ښکلي ملي، نه مې څوک تنکي منکي خوښېږي
خو بيا مې هم دا يو او نيم چټي پټي خوښېږي
نظم چټيات ګڼي ازاد شعر ته اور اچوي
د فضليار خو غزلبوله شاعري خوښېږي

د فضلیار کمال ته ځير شئ ، چې څنګه بڼه يې له (تنکي) سره د (منکي) او له (چټي) سره د (پټي) مهملې کليمې راوړي دي.

د فضلیار صیب د شعر بله ځانګړنه چې د هغه شعر له نورو ځوانانو څخه بيلوي ، داده چې هغه په سياسي مسايلو کې ادبي نزاکتونه مراعتوي ، لکه د نورو غوندې کنځلې نه کوي بلکې د واقعتونو له مخه د کنايو او استعارو په ژبه حجابونه پورته کوي.



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

تاسو يې لاندې بيتونه وګورئ، چې په څومره ادبي نزاکت سره د ګاونډيو هېوادونو په اوږو د احسان درون پېتى ږدي او د شوروي تګ لوري ورته څرګندوي. دغه راز د جهاد په اتلانو غږ کوي چې که له روس نه مو مخ راړولى نه وى، نو کفري لمن به يې له نړۍ څخه نوره هم ټوله شوې وه:

دا خلك دې مونږ ته دُعاګانې کړي
مونږ که نه واى روس تر هندوستانه ته
ولې دې افغانه دومره ژر پرېښود
ستا دوښمن روان و له جهانه ته

دا چې فضلیار په يوه علمي او ديني چرګۍ را لوى شوى، پلار او ترونه يې ديني عالمان او نيکه خو يې د طالبانو او ملايانو جرنيل و. نو ځکه يې په غزلو کې ډېر مذهبي څرکونه هم ليدل کېږي.

تاسو وګورئ چې په لاندينيو بيتونو کې يې څومره لوړ ديني مفاهيم په ډېرو لنډو او ساده ټکو کې بيان کړي دي:

زړه! څه چې دې خوښه وي کوه يې خو
پام کوه چې رب درڅخه هير نشي

فضلیار زړه ته د هر څه د کولو اجازه ورکوي خو يوائې يو شرط پرې ږدي ، چې خداى به نه هيروي. دده کمال دادى چې همدا يو شرط دومره جامع شرط دى چې له امله يې سړى له هر ناوړه کاره ژغورل کېداى شي. ځکه چې الله د چا په ياد وي نو هېڅکله به بې لارې نشي.



د فضلیار لومړنی غزل ټولګه

همدارنګه لاندې بیتونه یې وګورئ:

پرته له تقوا پرته له دین څخه
څوک وایي چې ژوند لکه زقوم نه دی

***

هغوی ژوندي دي هغوی ژوند او مینه دواړه کوي
د خدای په لاره کې مړه شوي مونږ ته مړه نه ښکاري
او داسې نور.

همدارنګه د فضلیار له شعر نه د هېواد د ابادۍ ، ملي ازادۍ ، سولې او ارامۍ ورېمې راولاړېږي ، هېوادوالو ته د ښه او نوی ژوند زیری ورکوي ، نهیلي په کې ډېره نه ترسترګو کېږي ، له توپک او جنګ څخه کرکه کوي او پر ځای یې د کتاب ، قلم او پښتني حجاب سره مینه لري :

فضل د خدای دی د توپک پر ځای ګلاب غواړي اوس
چا چې به کلي ورانول هغوی کتاب غواړي اوس
دده د لاسه مو د مړه نیکه هډوکي خرڅ کړل
خدازده چې نور راڅخه څه شی انقلاب غواړي اوس
ترپایه....

هغه د همدې غزل په پای کې خپل یو خصوصیت او ځانګړتیا ته اشاره کوي او وایي:

نور دې د سترګو او ښو په ژبو نه پوهیږي
د فضلیار زړه درنه تکه سپین ځواب غواړي اوس



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

ریښتیا ده چې فضلیار سپینې او زړه وړې خبرې کوي ، او له نورو څخه د هغوی د کړنو سپین حساب غواړي. په غزل او ورځینې ژوندکې له هیڅا څخه نه وېرېږي ، د رحمان بابا غوندې نه د چا بې ځایه غندنه کوي او نه هم بې ځایه ستاینه.

ما چې دده جرئت، استعداد، هنري شوخی او خوږو اخلاقو ته سوچ کړی، نو دا غزل مې په ذهن راوربدلې ، چې دلته یې فضلیار صیب ته ډالی کوم:

نه پېښومي کې تم شوی نه په ځور
دا د هسکو غرو د سپینو واورو چړ
هره چیغه یې ږلی د پشه کال ده
چې باران ورسره مل شي جوړ کړي خور
غاړکی یې د غزل ناوې ته راوړه
ملغلرو نه یې جوړ دی هر یو لړ
په قلم او ځلمیتوب یې برکت شه
راته ښکاري د پامیر له غره نه لور
ننداره یې چې په سپینه ږیره وکړه
یارمحمد یې د ستایلو بولي ور

زه خپله لیکنه رانغاړم او د فضلیار صیب د شاعرۍ په هکله دومره وایم، چې هغه واقعاً خوندوره، ساده او ښکلې پښتنه شاعري کړې ده. زه یې په دواړه مخه ښکلوم او د راتلونکي نسل د ویاړ هنري شمله یې ګڼم.

په اشعارو کې یې بې ځایه ، شډل او بازاري لُغتونه نه دي راوړي. غزل یې د پښتو ادب لپاره غټه پانګه ده. د ریالېزم په رڼه لار یې قدمونه اخیستي او د خپلو همزولو نه یې د غزل لاره



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

ببله کړې ده. له نباره وتی خو نرخ يې نه دی پرېښی، د قافيو خوند او د شعر طول او عرض ورنه نه دی خراب شوی. زه وربانديې ويارم ، مور و پلار او ټولو پښتنو ته يې مبارکي وايم.

بې عيبه يواځې الله دی ، انسان که هر څومره پياوړی او تکړه شي بيا هم نيمګړتيا لري ، داسې به د ده په شعر کې هم نيمګړتياوې يې. خو فضليار خپلو نيمګړتياو ته هم پاخه او هنري رنګونه ورکړي.

زه په پای کې دده تاندې هنري ځوانۍ ته د دُعا لاسونه لپه کوم او په لاندې ډالۍ يې لمانځم:

د پګړۍ بلا دې واخلم د شملې دې را په سر شه
خدای دې وساته له سترګو غليمان دې له نظر شه
له سپين ږيرو نه يې وروسته،هلکان دې نيوی نشي
د غزل توره تېره کړه لږ څه نور هم زړور شه
سپوږمۍ ونيسه له لاسه ستوري ټول په خوب ويده کړه
د غزلو لمر دې خور په پښتونخوا کې لروبر شه
خدای دې دواړه په جنت کړي کوچی داسې درته وايي
فضليارہ دا کتاب دې مور او پلار ته بختور شه

په پښتنه مينه

استاد يار محمد (کوچی)

د کوچيانو کلی، قصبه، جلال اباد



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

د فضلیار پېژندنه

فضل هادي فضلیار د منځني قد ، سپین رنګ او له خندا ډکې څېرې لرونکی تنکی ځوان دی؛ چې له ننه درویشت کاله وړاندې یې د محترم مولوي عبدالعزیز په کورنۍ کې نړۍ ته سترګې پرانستې دي.

څرنګه چې هغه د سره رود د نوموتي عالم مولوي علي احمد (چې په جرنیل صیب مشهور و) لمسی دی، او د یوې ديني او مذهبي کورنۍ پورې تړاو لري؛ نو د ښو او بدو له پېژندو سره سم یې ديني زده کړې پیل کړې. فضلیار د وخت په تېرېدو سره ځان له جوماته ښوونځي ته ورسوو ، د ننګرهار له عالي لېسې فارغ شو او د کابل د پولیسو اکاډمۍ جنایي څانګې ته لاړ.

فضلیار خپلې ښوونیزې هڅې نورې هم ګړندۍ کړې، د ننګرهار پوهنتون تر انګړه ورسېد؛ او اوس د همدې پوهنتون د انجینرۍ پوهنځي د پنځم کال زده کړې (محصل) دی.

فضلیار هغه د چا خبره ژوندۍ مړۍ ده، د لوړو زده کړو ترڅنګ په فرهنګي برخه کې هم ډېر فعال دی او د خپلې ژبې سره د بې کچې مینې له املې د فرهنګي ډګر په سرلاړو کې راځي.



د فضلیار لومړنی غزل ټولګه

هغه مخکې د مینې مجلې د کتونکې ډلې غړی او تر څنګ یې د پژواک خبري اژانس پرې لانس ژورنالست و. خو اوس مهال د نړۍ مجلې مسئول مدیر او د ځوان کلتوري خوځښت د علمي او خپرنیزې څانګې مشر دی. دغه راز د یو شمېر نورو خپرونو سره قلمي همکاري هم لري.

فضلیار د خپلې شاعرۍ په څېر ډېر خوږ او د نرم خوی څښتن دی. ډېرې خبرې نه کوي ، او بې ځایه کړتې پرتې یې نه خوښیږي.خو د ځینو ملګرو په اند د مینه ناک طبیعت ترڅنګ ډېر شوخ هم دی ، او یو شمېر یاران یې له شوخۍ څخه سر ټکوي.

په هر حال د هغه خوځنده قلم او ګړندۍ فرهنګي هڅې د ستایلو دي. زه ورته ددې غزلټولګې د چاپ مبارکي وایم او خپله لیکنه د حمزه بابا په دې بیت پای ته رسوم چې وایي:

خدای دې مین ډېر کړي چې ښېرې کوي
ماته خو نور چل د دُعا نه راځي

نصیراحمد ښاد
د ځوان کلتوري خوځښت مشر



د فضلیار لومړنی غزل ټولګه

***

فضل د خدای دی د توپک پر ځای ګلاب غواړي اوس
چا چې به کلي ورانول هغوی کتاب غواړي اوس

وايي زما مينه به خپل زړګي کې پټه ساتې
دا ساده ګله رانه لپه کې درياب غواړي اوس

چې خپل عزت ، قدر او پت يې په کې وليدلو
په اروپا کې ګوره پېغلې نور حجاب غواړي اوس

اول يې وېل راځه ليلام يم په تاوان يم ياره
د هرې خولې د هرې غېږ رانه حساب غواړي اوس

دده د لاسه مو د مړه نيکه هډوکي خرڅ کړل
خدازده چې نور راڅخه څه شی انقلاب غواړي اوس

هغه بې عقله چې له تانه يې ځان ښکلی ګانې
دادی راغلی دی، مافي هغه ګلاب غواړي اوس

نور دې د سترګو او ښو په ژبو نه پوهيږي
د فضلیار زړه درنه تکه سپين ځواب غواړي اوس



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

کاش په هر اشنا مې ګران لکه ماشوم شم
کاش د هر دښمن پر سر لکه اتوم شم

د دې خپل زړګي په زړه کې به مې اوسم
کاش جانانه دومره خوږ لکه ستا نوم شم

غواړم ستا په شان پرې ځان ته واده کړم
غواړم سم د کوه قاف د پاچا زوم شم

پولادي زړه مې پوښتنه درنه کاندي
چې دا ولې ستا په مخ کې لکه موم شم؟

ځان ظالم او کښرجن راته ښکاريږي
خو چې ستا کبر رایاد شي ، نو مظلوم شم

پر سینه دې سپین که تور تیکری خوښږي؟
راته وایه چې په دې دواړو کې کوم شم؟

فضلیاره خیر که اوس ورته هیڅ ښکارم
خو که وخت راغی نو بیا به ورمعلوم شم



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

د وخـت نـادودو نـاکـردو کـې بـه تـرکلـه اوسـي
نور بـه مـې روح او جـسد دواړه يـو تـر بلـه اوسـي

ستا ټول غمونه چې هـر يو يې لکـه غـره غـوندې دی
زما د زړه کـونج کې ځـائيږي بل ځـای څلـه اوسـي

تـر څو چې هـاغه پورې غـره کې خونخـور بـاز اوسيږي
د سـولې شـنه کـوتره دې کلـي کـې کلـه اوسـي

خـدايه! د هـر مـين برخـليک د هاغه باغ په څېر کړې
چې د نـري چـنار تـر څـنګ پـکې شـنه ولـه اوسـي

رب دې زمـونږ د چـم پـر ښکلـو بـاندې ورحمـيږي
د ښـکلاګانـو قـاتـلان بيـا ډلـه ډلـه اوسـي

ته بې وفـا د فضـليـار لـه زړه چې لاړې نـو څـه؟
هاغـه ده هـلته پـر همـاغـه ځای اوس بلـه اوسـي

د سايټس او ټکنالوژۍ اسلامي پوهنتون



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

د مصطفی سالك پر لیکه

***

پوهېږې اوس مې څنګه بې له تانه زندګي ده ؟
جانانه! وه جانانه! بلا ګرانه زندګي ده

د سترګو له یو رپ سره یې خو کسو نه واخلي
ددې وطن د خلکو څه ارزانه زندګي ده

پښتون یې چې ونه ګڼي کوم بل څه ورته وایه
د چا چې بې حجرې او بې اذانه زندګي ده

چې یار یې وي ، کوکنار یې وي او رحم پر خوارانو
د داسې خلکو بالکل بې ارمانه زندګي ده



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

بې مينې ، بې لـتـانه ، بې لــه يـاده دې جـانانه
بې عقلـه او بې روحـه بې وجـدانه زندګي ده

چې نه پکې عزت وي ، نه غـيرت او نه مــېړانه
هغـه ګـورئ ملګــرو بـې ايـمــانه زندګي ده

سره له دې چې ډکـه ده له رنځــه فضلـيـاره
خـو بيـا هـم ګـوره مـينه څه کامرانه زندګي ده





د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

داسې خو نه ده چې تنها مې په زړګي کې اوسې
ته په ګلاب ، ته په شفق ، ته په سپرلي کې اوسې

ته د تروو اوبو ماهی يې د جانان انځوره !
تل مې د سترګو په رانه سمندرګي کې اوسې

زړګيه! ټوله ورځ کې يو سات هم په خپل ځای نه يې
بس همېشه د يار د غاړې په ځوندې کې اوسې

د جانان خيال، مضر چينجيه! پام چې مات يې نه کړې
څومره بې پامه مې د سر په وچ لرګي کې اوسې

د يار وصاله! ته هم سم د خپلواکۍ غوندې يې
ماته کې نه ښکاري په سيوري د بري کې اوسې

نورو نه ولې ستا پوښتنه وکړم وه کم عقلې!
ته خو هر وخت ګوره زما په خپل زړګي کې اوسې

اوره ! د ټولو عاشقانو کې دې وخت تېر کړی؟
کنه تنها د فضليار په اسوېلي کې اوسې



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

ته رانه واخلې د فریب او دا د چل ملګري
خاونده راکړې په زړه سپین لکه ململ ملګري

والله پر ما باندې خو زور د رقیب نه رسېدو
زما خلاف ورسره یو شول زما خپل ملګري

ستا له نظره ولې پټ ګرځي پوهېږې په دې؟
زما زړګی همېشه ځان ساتي له غل ملګري

که امریکا، روسیه او چین خپلو کې هر څنګه وي
زمونږ خلاف ګورئ بیا ټول دي یو د بل ملګري

د ازاد شعر غوندې کارډه وارډه مې نه خوښیږي
غواړم خوارډه او په لاړ سم لکه غزل ملګري

د دولسم ، لسم او اووم یاران به څنګه هېر کړي
د فضلیار چې اوس هم یاد دي د اول ملګري



***

ټول خوی او خواص دي بس همدا ښه دي بدل مه شه
نیت د بل ملګري دي هیڅکله درته غل مه شه

زلفې ، شوندې ، زنه او دا سره سره اننګي دواړه
ټول دي ګل او ګل شه، خو په سترګو کې دي ګل مه شه

زړه دي لېونی ښه دی چې لیکې لېونۍ غزل
عقل دي الله وساته عقل دي پاګل مه شه

څه چې دي په زړه کې وي پوره دي ارمانونه شه
هر څه دي خدای درکاندي، خو را درته اجل مه شه

نظم، بګتۍ او نور د دوی په څېر شعرونه دي
شي دي ، پروا نه کوي خو خاوري دي غزل مه شه

دا دُعا په نیمه شپه کې شوې فضلیار ته ده
ده هم پرې آمیین کړی چې توري دي خجل مه شه



***

بس یو ارمان له خدایه غواړي بل ارمان نه لري
زړه مې جانان له خدایه غواړي بل ارمان نه لري

د خلکو مینځ کې جنګ، جګړې او په اخر کې جرګه
دا ملکان له خدایه غواړي بل ارمان نه لري

دا جینکۍ چې په لمانځه کې دُعاګانې کوي
دوی هلکان له خدایه غواړي بل ارمان نه لري

چې ډک له مینې محبت نه وي بس هر یو شاعر
داسې جهان له خدایه غواړي بل ارمان نه لري

فضلیار تل یو پرمختللی او سوکاله غوندې
افغانستان له خدایه غواړي بل ارمان نه لري



***

راشه د ګل غوندې سپرلي غوندې بشر درښيم
ځان ته دې وګوره بس دغه شان نفر درښيم

د زلفو وربځو کې يې پټ ساته که روغ مې غواړې
دا لمرين مخ دا د مېن د مرګ خطر درښيم

عجب مقتول دی، خپل قاتل لکه ایمان پرې ګران دی
مړې! خو خپل زړه او دا ستا مړاوی نظر درښيم

په هغې ژمنې دې بلا مازيګرې واوښتل
تا چې ویل همدا راتلونکی مازيګر درښيم

باور مې نشي چې له تور غره نه دې کم وي ګراني!
ستا په سينه کې دا د تورو تيرو غر درښيم

ته يې خوښېږې ((لمر)) په تا باندې مين دی ګلې!
دا چې دا ځمکه باندې ګرځي دغه لمر درښيم



***

دا امکان شته چې د دُښمن لاسونه بنکل شي رانه
د چا لپاره به سرکوزی هم اتل شي رانه

تا به خوشحال ساتم که ته چېرته خفه شوې رانه
کېدای شي یاره چې د ژوند ډېوه مې ګل شي رانه

افغانستان په څېر ویجاړ زړه مې په دې سوچ کې دی
چې ګاونډي لېوان به منعه په څه چل شي رانه

کله چې لست د ګلو لیکمه ، نو نه پوهېږم
چې ستا نامه ولې په ټولو کې اول شي رانه

جانانه! ستا راخپلول خو دومره سخت کار نه دی
خیر که په دې عمل پردي دغه ټول خپل شي رانه

هغه خبره دې ریښتیا شوه چې ویل به دې تل
له خپله لاسه به (فضل) غریب پاګل شي رانه



***

په زوره کور پرې جوړوي څه ستمګره ده يار
يو څوک مې زړه کې لاس وهي لکه کوډګره ده يار

اوس تر کورونو رسېدلې په دېرو کې کېږي
زمونږ د مينې کيسه تېره تر ګودره ده يار

زما د زړه باغي مرغه چې يې تابع کړ ځان ته
دا د ظالم لور ګوره څومره زوروره ده يار

طبيبه ! يار هېرول څه مانا خپل ځان کړمه هېر؟
زما له واکه څخه دا بهر خبره ده يار



پام چې د شپخې مخکې څه ورانه خبر ونه کړې
چې هـمـدا اوس راکـوزه شـوې لـه مـمـبره ده يـار

چتې غوسه يې زړه ! په ما کې څه ګُناه خو نشته
پـه نـه خـــبره رانه هـسـې مـــروره ده يـار

انجينرې غوندې خو وخت د فضليار نه نيسي
غــزل لـيـکل خـو د يـوې شـپـې خـبره ده يـار

شکرمارپوهنون



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

الله خبر چې هر سړی پسخېږي دوی ته څنګه
دا زړونه له سینې نه ورکولېږي دوی ته څنګه

دا ښکلي د اسمان خو مونږ ته ستورو غوندې ښکاري
چې ښکلي ددې ځمکې به ښکارېږي دوی ته څنګه

مشرانو خو خپل زړونه په دې خلکو ښه تش کړي
ډک زړونه ددې خلکو به خوټېږي دوی ته څنګه

دا مستې جینکۍ چې یو پر لاس کړي نو دوه مات کړي
بنګړو نه مړوندونه به ډکېږي دوی ته څنګه

یو وخت به ددې خاورې شهیدان ټول راژوندي شي
یو وخت به زمونږ سترګې بیا غړېږي دوی ته څنګه

دا خلک فضلیار غوندې مینو ته حیران دي
چې شوخې به په زړونو کې منجېږي دوی ته څنګه



***

ښه پرې پوهېږم چې مې سر په لور د دار روان دی
خو بیا هم شکر دی چې ستا دعشق پر لار روان دی

وطنه! ستا مینه کې ځینې له سرونو تېر شول
د ځینو نورو په هممدې نوم کاروبار روان دی

څنګه به وویني ښه ورځ زمونږ غټ خیټې مشران
چې ورپسې د مظلومانو لوی ازار روان دی

اوس د پیسو له شماره وتې ده خبره نوره
اوس د موټرو او کورونو دلته شمار روان دی

لکه چې بیا یې اورېدلې د چا مسته غزل
فضلیار ګوره پر لار هغسې خُمار روان دی



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

تر اوســه زړونـه د اغـيـارو لا سـاړه نه ښــکـاري
لا مـې د زړه په غـوښـو دوی راتـه مـاړه نه ښـکـاري

هغـوی ژونـدي دي هغـوی ژوند او مـيـنـه دواړه کـوي
د خدای په لاره کـې مـړه شـوي مـونـږ تـه مـړه نه ښکاري

اوس خـو مـې دادی لـه سـيـنـې څـخـه غـټ شـی ورک شوی
اوس دې هـم تـا تـه مـړه کـاتـه لـکـه چې غـلـه نه ښکاري

پـام کـوه بـيـا دې په سـيـنـه چې لـونـګ ځـوړنـد نه کـړې
د پـاچـاهـۍ پـر تـخـت مـې مـاتـه بـل څـه ښـه نه ښکاري

لکـه لـښـوه وهـي ټـوپـونه هـر يـو ښـکـلـــي پـسـې
دا په سـيـنـه کې مـې پـروت شـی خـو مـاتـه زړه نه ښکاري

خـدای خـــبر ولـې فضلـيـاره په تـا څـه شـوي دي
اوس دې بربـتـونـه د پـخـوا په څـبـر کـاړه نه ښـکـاري



***

نه ښکلي ملي ، نه مې خوک تنکي منکي خوښيږي
خو بيا مې هم دا يو او نيم چتي پتمي خوښيږي

هغه ياري نه ده چې څوک پکې ونه ځوريږي
ما ځوروه زما ياری کې اسويلي خوښيږي

څوک احمدزي،څوک ستانکزي ، څوک خوګيانې خوښوي
زما په ټولو پښتنو کې اپريدي خوښيږي

له مجبوری او احتياجی څخه امان غواړمه
خو خپل جانان ته مې زاری او مجبوري خوښيږي

زه به دې غم اخلمه ، درد اخلم ، بلا اخلمه
سپينه خولګی خو دې اشنا د هر سړي خوښيږي

نظم چتيات ګڼي ، ازاد شعر ته اور اچوي
د فضلیار خو غزلبوله شاعري خوښيږي



***

تا هېرولی نشم کړانه تا به لا یادوم
روح به ستایمه ، ضرور به خپله سا یادوم

مخکې ډېر ښه وم چې وزګار به شوم رایاده به شوې
اوس چې تسپې اړوم پام مې شي چې تا یادوم

خلکو ته ناست یم له سهاره تر مابنامه پورې
ورته لګیا یم نور نو څه خو ستا جفا یادوم

په ژوند خو ستا هېرول بالکل ده ناشونې خبر
له مرګه پس به هم په ژبه مسیحا یادوم

ستا د یوې خولې شکرانه کې زه یوه شپه ټوله
څادر په سر کړم د جومات کونج کې الله یادوم

تا فضلیار ته مې هم خوله او هم څېښه درکړه
ته راته هاغه یادوه او زه به دا یادوم



***

سترګې خو نه دي ، تباهي ده ، بربادي د خلکو
د غنم لو غوندې پرې يار زړونه ريبي د خلکو

يوه پوښتنه مې په زړه کې ده ريښتيا به وايې
دا چې منګي دې ډېر مات کړي که زړګي د خلکو؟

دا ځني ځني چاپلوسي لکه هنر غوندې وي
دا ځني ځني خو چټې څپلۍ څټې د خلکو

منم چې (مسته) يې خو پام ګراني چې سهوه نشې
هغه (حيا) ده چې زړګي همېشه وړي د خلکو



لګـيـا دي غـاړو کـې يـې هـار د غـلامۍ اچـوي
خـو په ويـنـا کـې سـتـايـي دغـه ازادۍ د خـلـکـو

زمـونږ په چم کې خـو د هـر چـا تـکـه زړه اوښـتـي
خـدازده په څـه وي داسې تـک سـره انـتـګـي د خـلـکـو

هيڅ پروا نه کړي فضـلـيـاره که يې وخت ګـنې سپـک
خـيـر دی رسـېږي تـر خـالـقـه اسـويـلـي د خـلـکـو





د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

مـا کـه قلـنـدر غـواړي او مـا کـه تـل خـُمـار غـواړي
مـا کـه بـې پـروا لـه نـړۍ، مـا کـه تـل هـوښـيـار غـواړي

ای د جـانـان يـاده ! نـو يـواځـې بـه مـې نـه پـرېـږدي
راشـه ، کـه مـې چـېـرتـه د غـزل سـپـه سـالار غـواړي

افـريـن افـغـان ځـوانـه! هـمـدا د وطـن مـيـنـه ده؟
خپل وطن ويجاړ پرېږدي، پردي وطن کې کار غواړي

راشـه چـې خـپـل کـلـي کـې سـنـدرې درتـه ووايـم
تـه پـه بـازارونـو کـې شـغـاری د چـنـار غـواړي

بـس کـړه فـضـلـيـاره کـوم بـل څـه خـو هـم تـرې وغـواړه
څـو پـورې بـه خـدای نـه دُعـاګـانـو کـې يـو يـار غـواړي



***

ان تر سهاره ستا لـــه يـــاد او اداګانـو ســره
لګـيـا يـم ټـولـه شـپـه لـوبـړم لـه دېـوانـو ســره

د کلي پېغلـو پـه ګـودر کـې څـنګـه پـرېـکـړه وکـړه؟
چې دوی به څه کـوي لـه خـپلـو لـېـونـيـانـو ســره

د رقـيـبـانـو تـور مـخـــونـه او کـــوڅـې د کـابـل؟
ښکلـی جـنـت کلـه ښـاييـرې لـه کـارغـانـو ســره

رقـيـبـه! تـا خـو ګـيـدړانـو کـې هـم نـه شـمـاري څـوک
خـو ګـوره مـونږه جـنګـېـدلـــي يـو لـــېـوانـو ســره

وېـل يـې زمـا دې دا ښـکـاري سـتـرګـې نـور نـه دي پـکـار
د مـــيـن ســتـرګـــې ښـې ښـــکـاريـرې ژړاګـانـو ســره

چې په ژړا مـې ورتـه سـرې کـړې نـو شـيـن سـتـرګـې ويـل
خـدازده کـه ســولـه حـزبـيـان وکـړي پـرچـمـيـانـو ســره

کابل-منځنی طب



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

غومبوري دې زما د وينې وېش باندې لګيا شول
دې کار ته نن دوه غټ غټ بلاګان سره سلا شول

جرګې د معشوقو له خدايه سپين او سور رنګ وغوښت
د زېړ رنګ په ټاکنه عاشقان سره سلا شول

يو څوک له کوه قاف نه راشي وايي مبارک شه
له تا سره خپلوی ته ښاپيريان سره سلا شول

الله ! دغه خواره واره پر يو مشر راټول کړې
دارلو ته يې بيا د غرو لېوان سره سلا شول

بانډه دې ياره پوه کړه چې لږ رحم نه کار واخلي
ايستلو ته زما د زړه د کان سره سلا شول

پوښتنه ترېنه وشوه چې په ژوند قيامت دی څه شی؟
ځواب ته يې مين ټول په (هجران) سره سلا شول

سبا به فضلیار لکه منصور غوندې په دار کړي
په دې پرېکړه نن واړه ملايان سره سلا شول



***

پوره پوره یقین لرم تاثیر باندې د زلفو
ترلی بند په بند یمه زنځیر باندې د زلفو

دا څو شپې خوب کې ګورم پکې اوړمه را اوړم
اه شېخه ! ژر مې پوه کړه په تعبیر باندې د زلفو

مال دومره مهم نه دی د ځان ویر څه پروا نه کړې
اخته دې نه کړې خدای هیڅوک په ویر باندې د زلفو

ناصحه ! تا یې هم لکه چې خوند ولید که څنګه
بیخي نن نه مړېږې په تفسیر باندې د زلفو

د هر زړه یو ځای خوښ وي خو زړګی د فضلیار بیا
همېش اوسېدل غواړي پر کشمیر باندې د زلفو



***

خالق دي د بنکلا له بامه وغورځوه مړه شې
د کبر او غرور له تختې لاندې راچپه شې

زړګی ببچاره دلته په ټوپونو شي خیر غواړي
چې کله ته په بر سر د کوڅې کې رابنکاره شې

کابله! کور د هیلو شې چې نوی مشر راشي
خو څو شپې وروسته ببرته بیا د هیلو هدیره شې

خفه جانانه بیا به هسې وخت کله رانشي؟
چې نورو نه رامنډه کړې پر ما خوره وره شې

ډبر زړونه دې سوري کړل خو په تاهیخ هم ونشول
په زړه باندې ډبرینې کاش په زړه لکه ښیښه شې

چې سترې فضلیار غبرګ کې ارام او بیا ویده کړې
الله خبر که دومره مهربانه لکه شپه شې.



***

واړوه نور خاورې د هغې شپې پر کیسو باندې
زه شوم په زاریو ستړی ته شوې پر نخرو باندې

زړه ! حال به یې ستا غوندې وي مړ به له شوګیره شي
څوک چې اعتبار کوي د ښکلو پر وعدو باندې

هر څه چې کوڅه کې وکړو هیڅوا ته حال نه وایي
دغه اعتبار لرو د اوړي پر غرمو باندې

ناستې وي کرارې کور کې هر څه نه بې غمه دوی
دا ظلم که رحم دی پر پېغلو پښتنو باندې؟

اوس یې چې کوڅه کې فضلیاره بې دیدنه یې
هسې ژړېدلې په سفر کې پر شپو شپو باندې



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

د کمین صبب پر پل

***

تر څو به په چل ول باندې قدم راسره ږدې
لاسونه به په دروغو په قسم راسره ږدې

چې زه دې شرابي کړم ته خو هم ځان لږ خُمار که
ضرور به دا ځل شوندې په چلم راسره ږدې

که غواړې يې نو زه خو يې تنها غږوی نشم
رباب باندې به څو ګوتې ته هم راسره ږدې

مابنام خو دې بانو باندې کړ تېر، اوس نیمه شپه کې
وعده د يوې خولې په سپېده دم راسره ږدې

چې ماته دې په خپلې سينې ځای راکړ نو ګوره
يو څو پيالې د بنګو به نو هم راسره ږدې

زما پر نازک تن به فضلياره غرض نه کړې
بس يو به دغه قول ښه محکم راسره ږدې



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

د زړه په تل کې مېشته کېږي بل ځای نه اوسېږي
مـینه په وینه کې ګډېږي بل ځای نه اوسېږي

نوره يې مخه د سپېرو خاورو په لوري واوړي
څوک چې له يار نه جلا کېږي بل ځای نه اوسېږي

جانانه! تا نه دې غمونو کې وفا ډېره ده
هغوی له نورو نه شرمېږي بل ځای نه اوسېږي

له ټول بدن نه شوې راټولې د دردونو څپې
د زړګي لور ته راستنېږي بل ځای نه اوسېږي

که د ويجاړ وطن غمونه دې په کار وي نو ټول
د فضلیار زړه کې اوسېږي بل ځای نه اوسېږي

هرډېوره



***

دلـتـه ګـوزاره شـوه لـه تـور فکرو سره سـخته نـور
ښکلـيـه ! کـه زمـا مـنـي لـه دې کلـي نـه تـښتـه نـور

غواړې چې زما له خولې د خپل حُسن صفت واورې؟
پرپرده دا د وخـت نادودې مـه راڅخه پـوښـتـه نـور

بې د لـمـر د وړانګـو به لمرګلیه! ژوندی پاتې شې؟
دلـتـه شـوه د ښکلـو قـحـطـي، زړه حـسـن پرسـتـه نـور

ولـې فـضـلـيـار بـانـدې چـپـه مـيـچـنـي ګـرځـوې
خدای ته ګوره راشه له دې کاره تـبـر شه وخته نور



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

نور سختې دلته شپې شوې، له دې کلي کډه وړم
ترخې د ژوند شېبې شوې، له دې کلي کډه وړم

د مینې سمندر یم په لمبو کې مې ژوند خوښ دی
چې مړې په کې لمبې شوې، له دې کلي کډه وړم

چې ظلم پکې ځای دی اوس نیولی د جرګو
چې شاړې یې دبرې شوې، له دې کلي کډه وړم

نه غره کې کېږدی ښکاري، نه په کلي کې ګودر
هر لور ته هدیرې شوې، له دې کلي کډه وړم

بدرنګ غوندې مخلوق ورته له بل ځای راروان دی
ترې کډه ښایستې شوې، له دې کلي کډه وړم

د ژڼو ګلالی خبرې سپېرې شوې فضلیاره
شروع پکې نشې شوې، له دې کلي کډه وړم



د فضلیاره لومړنی غزل تولګه

***

لږ خو مې زړه دمه دمه کړه بیا که ځې هم نو خیر
یو وار خو سترګې رابښکاره کړه بیا که ځې هم نو خیر

یا مې تپې تپې زړګې ته شه پټې او ملهم
یا یې نور هم تغمه تغمه کړه بیا که ځې هم نو خیر

دا د چینار په شانتې دنګه بنګه ونه خو دې
لږ تاو راتاو، کړه وړه کړه بیا که ځې هم نو خیر

ګډې د زلفو دې له ځان سره همداسې مه وړه
ښه یې پر ما خوره وره کړه بیا که ځې هم نو خیر

په خوله که بله وعده نه راکوې خیر دی ګرانه
لږ یې په سترګو نوشته کړه بیا که ځې هم نو خیر

راشه دلبره فضلیار دې ډبر نهیلی ښکاري
لږ یې پخلا ، لږ یې ډاډه کړه بیا که ځې هم نو خیر



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

تنکي تنکي ګلان په سپېره خاوره کې پرېږدې
دا ولې لارویان دې نیمه لاره کې پرېږدې

منم چې د اسانې ورځې نه مېړنی یار یې
خو درېغه سړی ډېر ژر بیا په ګرانه کې پرېږدې

ای وخته! چې راځې خلک پر ځان باندې رامات کړې
چې ځې نو زنځیرونه یې په غاړه کې پرېږدې

ښکاري چې کله ښکار وکړي نو ځان سره یې یوسي
خو ته بیا سوري زړونه لویه لاره کې پرېږدې

راځې خو په نامه د پسرلي مګر افسوس چې
اغزي بیا د زړګي په دښته شاړه کې پرېږدې

ښکارېږي فضلیاره چې یې زړه دی درخوړین کړی
د خپل ژوندون کیسه چې نیمه ژباړه کې پرېږدې



***

هره شپه راځي په خوب کې په خندا تا راپه یاد کړي
څه ساده او کلیواله شان ښکلا تا راپه یاد کړي

که د ورځې ستا خونخور یاد له رنځور زړه نه بهر کړم
تور مانښام راته بلا شي سپوږمۍ بیا تا راپه یاد کړي

نا آرام زړونه چې واړه د آرام غښږه کې نغاړي
دا زړه سوانده نیمه شپه خو ماته لا تا راپه یاد کړي

منظره یې چې ما ستا په تورو څنو کې لیدلې
اوس نو هر یو سنځل ګل جلا جلا تا راپه یاد کړي

فضلیار به ستا له یاده ګورستان ته کډه وکړم
خو په ګور کې به بیا هم هره بلا تا راپه یاد کړي



***

زما زړه چې ستا يادو کې ژوند کوي دا يې د ژوند راز
سمندر چې په لمبو کې ژوند کوي دا يې د ژوند راز

ساده نه دي ښې پوهيږي چې د ناز افسون ځيګر خوري
خو پېغلوتې چې نخرو کې ژوند کوي دا يې د ژوند راز

چې ارام له نازه ډک ژوندون پرېږدي په خپله خوښه
ځي مجنون په سرو مېروکې ژوند کوي دا يې دژوند راز

نه هيڅ زور شته پرې نه ظلم،دا د ټول بدن واکمن زړه
چې په خپله پرهرو کې ژوند کوي دا يې د ژوند راز

ټول عالم ببغمه پروت چپه چوپتيا ده په جهان کې
فضليار چې شوګيرو کې ژوند کوي دا يې د ژوند راز



***

چې ګلونه ستا وربل کې بیا شول ځای لیکه پر لیکه
اُمیدونه مې ګوګل کې بیا شول ځای لیکه پر لیکه

سپینو ستورو غوندې ټول ستا د نامه سپېځلي توري
زما د زړه په تاج محل کې بیا شول ځای لیکه پر لیکه

پسرلی په ننګرهار کې لنګوټو نه معلومیږي
د نارنج ګلان هر ول کې بیا شول ځای لیکه پر لیکه

زما زړه به په څه حال کړي چې پوځونه د ښکلاوو
ستا د سترګو په مورچل کې بیا شول ځای لیکه پر لیکه

تا چې ځان سره څه وېلې فضلیاره په قلاره
هغه ټول دادي غزل کې بیا شول ځای لیکه پر لیکه



***

زړه مې په سترګو دی مین د سینې څنګ نه مني
افغان جانان مې له جنګ سترې دی نور جنګ نه مني

همېش خُمار وي او زنګېږي د خیالونو په تال
د چا په زړه کې چې وي مینه هغه بنګ نه مني

دوی له توپك سره بلد دي، صرف ماشه پېژني
لاس یې ببلچې ته نه ورځي ، زړه یې کولنګ نه مني

مین د سوي زړه نغمې بل څه کې نه وینې چې
بې د بلبل له فریادونو بل آهنګ نه مني

دغه پردیو رالوی کړي نور خیالونه لري
دا بې فرهنګه فرهنګ څه کوي فرهنګ نه مني

پښتون یې مه بوله چې یو د تورې شرنګ پېژني
خوشال خو ستایي د ادم د رباب ترنګ نه مني

خړ فضلیار ته خو مې ډېر د سره پالنګ وویل
خو په سنګر کې په شوګیر روږدی، پالنګ نه مني



***

لمر نور له غرونو پنا کېږي لږ خو راشه کنه
زړه مې نرى نرى خوږېږي لږ خو راشه کنه

د رقیبانو غمازانو هیڅ پروا مه لره
خیر چې هر څه اوس راپېښېږي لږ خو راشه کنه

د زړه په تل کې مې پرتې دا ورستې شوې هیلې
ستا په راتلو چې راټوکېږي لږ خو راشه کنه

د ذهن پاڼه مې نور سپینه شي هر څه ترې هېر شي
صرف ستا تصویر پرې انځورېږي لږ خو راشه کنه

هغه تازه زړه مې باور وکړه چې بې له تانه
بس ورځ په ورځې مړاوی کېږي لږ خو راشه کنه

ته چې ترې لاړې فضلیار بېچاره ټوله ورځ اوس
په لاره ځان سره غږېږي لږ خو راشه کنه



د يوچا پر ليکه

***

کله ځان راځخه ورك شي کله ورك شمه په ځان کې
کله خاورو کې اوسېږم کله سترګو د جانان کې

زما مينه او ستا کبر د افغان او جاپان غوندې
يو تر اوسه لا رنځېږي ، بل اوسېږي په اسمان کې

ستا غمونه مې په زړه کې واه واه څومره ښه ښکارېږي
لکه تيته چې رمه شي په سرسبزه بيابان کې

ددې وخت دا ناخبره مسلمان چې ترې کړيږي
ددې هرې يوې ستونزې د حل لار ده په قران کې



سپينو ستورو غوندې ټول يوه اسمان کې سره اوسي
دا پښتون، تاجك، اُزبك چا کړل پيدا په يو افغان کې

منم دا چې زما مينه دې په زړه کې شته خو دومره
لکه پروت چې کوچنی ګل وي په ساحه دکهکشان کې

مقتديانو! فضلیار غريب يو څه وسواسي شوی
خير که نن يې د بل چا نامه کړه يادە په اذان کې





د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

پیالې دي بې اثره او کنډول دی خدای وهلی
هر څه نه مزه لاړه، جهان ټول دی خدای وهلی

پخوا چالاک شیطان ته هم، صرف یو لغمانی بس و
اوس خدازده څه پرې وشول، لغمان ټول دی خدای وهلی

کونړ نه څه ګیله او نورستان نه څه اُمید دی
چې خپله د وختونو سندربول دی خدای وهلی

پرتوګ له پښو ووتو، نېکر او پطلون راغی
لونګۍ شوله بې قدره او پکول دی خدای وهلی

نور لاړو، د اتڼ له هر میدانه ډېران جوړ شو
اوږدې څنې بې تابه شوې او ډول دی خدای وهلی

والله چې فضلیاره ملنګۍ کې هم څه نشته
تسپې بې اهمیته شوې، کچکول دی خدای وهلی

لغمان



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

په اداګانو ، سترګکونو ، اشارو ولاړ دی
والله د ښکلو ژوند خو ټول بس پر نخرو ولاړ دی

زما له زړه نه خو دا ستا غمونو جوړ کړ کابل
اوس نو پرې ځکه (سوله ساتی) د پردو ولاړ دی

څو به مو نورو ته وي سترګې د امید نیولې
کله به وایو چې هېواد مو پر پښو ولاړ دی

هسې چتې ترېنه دا خلك د خوښۍ تمه کړي
د عاشقۍ ژوندون خو ټول پر اندېښنو ولاړ دی

د ننګرهار ګلاب ، زما زړه او انار د کندار
درېواړه ویاړي چې یې رنګ ستا پر لېمو ولاړ دی

شېخه ! چې ولې مونږه تاته چندان ښه نه ښکارو؟
د خدای طاعت لکه چې ټول بس پر تسپو ولاړ دی

ګلمخې! راشه مسافر یار دی خدای بیا راوستو
ورك فضلیار دې د ګودر پر څنډو شنو ولاړ دی



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

بس ټولې سيمې د زړګي مې نور تر خولې ډکې دي
ستا له يادونو ددې ښار واړه کوڅې ډکې دي

چې راځې نه، تصوير دې مه رالېږه څه پرې کوم
ستا تصويران خو څه لږ نه دي تر باغچې ډکې دي

ددغه چم له پېغلو جونو به څوک څه ګيله کړي
چې يې له زرو فسادونو نه وړې ډکې دي

خدايه ځنګلونه خو يې ورېبل اوس بل څه وايي
چې له الماسو ددې وران هېواد درې ډکې دي

دلته د ورځې هم ډاډه څوک ګرځېدلای نه شي
داسې خو نه ده چې له ډاره مو صرف شپې ډکې دي

خندا خو څه کړې اداګانې هم پر خپل ځای پرېږده
والله د مينې له اثره دې ګيلې ډکې دي

يوه خو نه ده، دوه خو نه دي، درې څلور هم نه دي
د فضلیار له غزلونو کتابچې ډکې دي





د فضلیار لومړنی غزل ټولګه

اطرافیان

څه ساده خلک یو چې څوک راته راوګوري لږ
مونږه ورمنډه کړو لاسونه ورته دواړه ورکړو

مونږ اطرافیان بس په هر چا کوو د خپلو ګومان
څوک چې راپاڅي تالاشۍ ته مونږه غاړه ورکړو

دوی مو په شواړو واسکټونو کې بمان لټوي
مونږ ورته جیب نه موټي کورت راواخلو واړه ورکړو

مونږ ساده خلک په ټګۍ او برګۍ نه پوهیږو
چې څوک مو خوښ شي نو بس زړونه په ولاړه ورکړو

د سر په بیه له خپل حق نه تېرېدلای نشو
دې ته حاضر یو چې دوستۍ کې ورته دواړه ورکړو

کابل- پولیس اکادمي



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

کله کله ازاري شې ګني نور د ژوند قرار يې
عشقه ! څومره بختور يې له يو زړه نه بل ته لار يې

کبرجنه ! خلک اخلي غلامان په لوړو بيو
زه چې هسې ستا غلام يم ته له ما څخه بېزار يې

سره شاديان څه په غرور درته راغلي وو وطنه!
خو له تانه خبر نه وو چې پردیو ته انګار يې

هجره! خير اوس خو مې يار يې، راته وايه چې دا ولې؟
د زړګي له غوښو پرته نور له هر څه نه بېزار يې

که پر زړه د فضلیار دي بارانونه د غمونو
د نړۍ ډېرو غمو کې د جانان غمه سردار يې



***

که ملامت یم او که نه یم نور توبه جانانه
خیر دی بخښنه درنه غواړمه خفه جانانه

د سمندر زړګي په مینځ کې مې تاوېږي مدام
ستا د یادونو زوروره شان څپه جانانه

ولې له خپل پخواني کور داسې په څنګ تېرېږې؟
کله نا کله خو مې غېږې ته راځه جانانه

باور دې وشه ستا له تګ سره یو ځای ووته
زما له ژونده د خوښیو جنازه جانانه

نور به هغه خبره نه کړم چې ستا خوښه نه وي
نور به د هر کار درنه غواړم اجازه جانانه

باور مې نشي چې دې وشي هیڅ امکان نه لري
د فضلیار پرته له تانه ګوزاره جانانه



***

کـه راغلـې نو دا ستـا د سترګـو ښـکار درتـه درښـيم
پر زړه بـه مـې تر ټولـو سـتر پرهـار درتـه درښـيم

لـه غـره راځورند رود بـه درنـه هـېر کـړي کـه دې ولـيد
ددغـــې ګلالـــۍ جـــينۍ رفـــتـار درتـــه درښـــيم

شربت غـوندې يـې غـړپ کـه ای د وخت غـلام زلـمـيـه!
نـور څـه درسـره ښـايـي خـو بـس زار درتـه درښـــيم

کـم عـقـل دی چې هـــر څـه ورتـه وايـم نـه صـبـريـږي
دا زړه ، دا په اور سـوی ســور انـګار درتـه درښـيم

عـجـــبـه ده ، هـــر څـه يـې د دوســتـۍ پـه نـامـه وکـړل
وژنـــې ، ورانـونـــې او بـمـــبـار درتـه درښـــيم

تـوبـه ! دا عـزرائـيـل هـم عـجـيـبـه غـونـدې انسـان دی
هـا پاس خو نه، جـانـان د فـضـلـيـار درتـه درښـــيم



***

قتل پسې بيا راوتي دوه غبرګې خونکارې دي
خدايه زړه مې ساته نن يې بيا سترګې خُمارې دي

څنګه تر خوا درشمه او څرنګه دې بنکل کړمه
شا او خوا لښکرې د بېلتون خوني ولاړې دي

ستا په کشمير مخ هندوې زلفې پيرداړې خو
زما له افغاني غازې نظره سره ورانې دي

هيڅ د مينې راز او دعشق ناز پکې بنکاريږي نه
ځار دې شم له سترګو څنګه نن داسې ناګارې دي

خدای خبر چې بيا دغه د زانو کتارونه نن
کوم لور ته هجرت کوي پر کومه خوا روانې دي

ته خو نازنينې ځې راځې چې ګوندي غلا يې کړې
پام کوه د زړه مې بدماشانې څوکيداړې دي



***

خدای خبر نور دې لا کوم وخت او زمانو ته پریښی
دا دومره غټ حساب دې یاره کومو شپو ته پریښی

تاسو پوهیږئ چې دا خدای پاک ولې غرب نه وهي؟
هغه یې هم افغان پکول او لنګوټو ته پریښی

ته چې ترې تلې نو خوب دې ولې وړ له ځانه سره؟
ماشوم زړګی مې دې جانانه شوګیرو ته پریښی

ملا ! را اوځه له مسجد نه امامت څه کوې؟
سیاست دې ولې دې مضرو حشرو ته پریښی

د خلکو زړونه یې پر لاره باندې وکړل ټول
د فضلیار یې د زلفانو زولنو ته پریښی



***

مینه، خندا، ټوکه، ادا به بیا له کومه کوې
سختو حالاتو کې دعا به بیا له کومه کوې

چې هم دې وژني او هم خوند په کې له ژونده ډېر وي
داسې نظر داسې مسکا به بیا له کومه کوې

غروره! پام کوه چې یار درنه خوابدی نشي
ساه اخیستل د زړه درزا به بیا له کومه کوې

وخته! دا څو ښکلي بې قدره نه کړې پام پرې کوه
داسې پښتو داسې تقوا به بیا له کومه کوې

سپوږمۍ په (لمر) ډېر ظلم مه کوه که مړ شي ګوره
ته به هم خواره شي رښا به بیا له کومه کوې



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

دالی: درنو صبورجان او غیورجان ته!

***

کـنـدهـاري يـاران چې کلـه راپـه زړه سـي بـارا
پـه هـغـه دم مـې نـو زړګـی ذره ذره سـي بـارا

دا تـه نـو چـېرې يـې چـې نـه ښـکارېږې وه ظـالـمـه !
هسې نـه ژونـد مـې درپـسـې ايـره ايـره سـي بـارا

ژبـه مـې ګـونګـه سـي بـيـخـي غـزل ويلای نـسـم
خـو چـې تـا ووينـم غـزلـې راشـــېوه ســي بـارا

بـس ګـرده ورځ لـکـه پـايـلـــوچ ايـلـه ايـلـه ګـرځـېږم
تـه ځونـه ښـه يـې چې رايـاد سـې ورځ مـې ښـه سـي بـارا

که بـيـا خـوابـدی سوې نـو بـيـا بـه دا نـړۍ ورانـه سـي
بـيـا بـه مـې ګـرده سـره زړه بـس لـولـپـه سـي بـارا

کندهار



***

دا پروا نه کړي چې څوک ګډې ته خواړه نه لري
سخته ده دا چې د يار سترګو ته رانجه نه لري

څوک چې ماغزه لري ضرور به هغوی غم هم لري
څوک چې په زړه نه لري غم هغوی ماغزه نه لري

د رقيب حق دی چې خپل ځان د خلکو سيال وګڼي
ځکه چې هيڅ په لمن داغ لکه کارغه نه لري

ښار کې مو کار نشته دی هر سړی اوزګار ګرځېږي
کلي کې نشته دی اوبه ، غر مو غرڅه نه لري

وخت به بې خونده څنګه نه وي وخت به خود ګډوډ وي
وخت بې غيرته په لمن کې پښتانه نه لري

په فضلیار باندې ملګرو کې ډېر ګران هغه دی
چې هم برېتونه ، هم وېښتان او هم بانه نه لري



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

سپين سان مې اوس په تورو سترګو خور دی که راځې
بس نور مې نو سفر د ګور په لور دی که راځې

دا تاته زما تن چې نه زړګی لري نه روح
وه غمه د جانانه ! ډېر ښه کور دی که راځې

يواځې همدا ته مې د رنځور زړګي ارزو يې
له نورو نعمتونو مې زړه تور دی که راځې

ظاهر وجود مې مه ګوره چې روغ رمټ ښکارېږي
دننه مې زړګي اخيستی اور دی که راځې

ها تا چې کبرجن ګانه مغرور دې ورته وېلې
هماغه فضليار درته سرتور دی که راځې

د عامې روغنيا روغتون - جلالکوټ



یوې بهرنۍ مېلمنې ته!

***

ګوره لومې ، جال او زولنو سره به نه راځې
زلفو تار په تار خورو ورو سره به نه راځې

دا خلک تیارو کې دي بلد سترګې یې بربنډ کوي
دې ځای ته د لمر د پلوشو سره به نه راځې

مرګ دې راشي مرګ له دوی نه سل ځله بهتره دی
ژوندە ! د ببلتون له تورو شپو سره به نه راځې

سترګې دې په کور کې پربږده بیا راځه زما خواته
دلته دانه تېرو تمانچو سره به نه راځې

بې له ښکلو راشه فضلیار دې هرکلی کوي
پام کوه د مرګ له پربښتو سره به نه راځې



درنې او پښتنې خور مریم ناصري ته!

***

نهیلي مه شي خوري خپل پت به حتمي ساتي
ځوانان به وګوري چې څنګه خپلواکي ساتي

د ملالۍ سکنۍ خویندې نو په څه شوئ تاسې؟
چې سنګرونه مو یواځې اوس زلمي ساتي

د څو ټیټ سترګو او پردو په سر دې نشي بدنام
ډېر زلمیان شته دی چې هوډونه ایوبي ساتي

که توپ، ټوپک، توره او ډال ورسره نه وي ، خیر دی
پښتانه ښه دي په کورو کې تبرګي ساتي

زمونږ شپونکي اوس روږدي شوي په بېدیاوو کې دوی
خپلو رمو سره ضرور څو دانې سپي ساتي

کېدای شي دا ځل دغه چم لکه میوند وځلي
د ملالۍ خواص چې ځان کې (ناصري) ساتي



***

د ګلاب د ګل غـوټۍ شـولې کـه څنګـه؟
ایلـه اوس نـو د یـارۍ شـولې کـه څنګـه؟

پـولادي زړونه پـه یـو نظـر سکاره کړې
جـادوګره بـنګالـــۍ شـولې کـه څنګـه؟

دا چې تـل د پېغلـــو مخکـې یـې روانـه
سرلښکره ابدالـــۍ شـولې کـه څنګـه؟

پـه هـر چـا بـه لکـــه واوره وربـدلـې
خـو پـر مـا لکـه ږلـې شـولې کـه څنګـه؟


څنګـه لاس پـر مـخ حـیرانـه ودربـدلـې؟
پښـېمانه پـه خولګـــۍ شولې کـه څنګـه؟



والله ډېر زیات ځورول دي اوس یاد کړي
نوره لاړې کابلـــی شـولې کـه څنګـه؟

ستا دي مستـو حـرکاتـو کړم بې خـوده
ټولـه جـوړه لـه مستی شـولې کـه څنګه؟

فضلیار تـه اوس غوسه او کنځل نه کړې
ګلې! نـوره سکـــنی شـولې کـه څنګه؟





***

ستا د سترګو، د کتلـو بلا واخـلم
ددې دوه غـبرګو قـاتلـو بلا واخـلم

ستا لـپـاره ستا د واړو غـلامـانو
د نړۍ د ټولـو ښکلـو بـلا واخـلم

برند راوګوري بيا ځان سره مسکۍ شي
ددې درد ، ددې درملـو بـلا واخـلم

زه د ځان او که د ستاسې غـوندې ياره
د تک زړې ، که د سـرو ګلـو بلا واخـلم

ښـار دې ورک شي، د خپل کلي د پېغلوټو
د ټيـکـريـو د وربلـو بـلا واخـلم

د ګلانو هـر څوک اخلـي فـضليـاره!
سـتا په شـاتتې د بلبلـو بـلا واخـلم



***

په عـاجـزی کـوم غـوښـتـنه پـيـره
کـوه د زړه مـې لـرې پـوښـتـنه پـيـره

روح او جسد مې دا ستا غبرګ مريدان
غـواړي لـه تـا سـره لـيـدنه پـيـره

تک سپين بشر او تکې تورې جامې
مـه کـوه ډيـره تـولـوژنـه پـيـره

څـومـره لـه کـوډو او تـاثـيـر ډکـه وه
هـغـه اول ځـلـې کـتـنـه پـيـره



درنه بې لارې شاعـــري مـــې نشـي
ښـه يـې پـه غـور کړه خـارنـه پـيـره

چې هم شي خوږ، هم نازکخيالـه داسې
د تـخـــــيـل غـــــوارم روزنـه پـيـره

کـه دې دا خـواست د فضليـار ومـانـه
نـو ســـل او زر ځلـــه مـــننـه پـيـره





د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

زړه، عقل که روح وایه چې کوم نه دی؟
دوی کې ستا په مینه چې مسموم نه دی؟

څوک دی د دوزخ د سرو لمبو لایق؟
چا ایمان راوړی ستا پر نوم نه دی؟

ډاګ دی، قبله نه ښکاري لمونځ څنګه کړم
کور د جانان هم راته معلوم نه دی

زړه مې په هر ست باندې پوهېږي اوس
اوس لکه پخوا غوندې ماشوم نه دی

پرته له تقوا ، پرته له دین څخه
څوک وایي چې ژوند لکه زقوم نه دی

ټول دې اوس تړي په ښاپېرو پورې
وایي دا هلک د انسان زوم نه دی

زړه د فضلیار یې دړې وړې کړ
چا وېلې چې غم دې بم اتوم نه دی؟



د خاطر اړیدي په لیکه

***

د انـکار ټکـــو کې اقـرار دې وکـړ
ګـــراني! دا څـه عجـيبه کار دې وکـړ

دا و نظـــر او کـــه د غـشـــو بـاران؟
چې دا زمـا د زړه پر ښـــار دې وکـړ

تـا پـه نفـرت ګـــوره هـيڅ نه وو کـړي
خـو نن پـه مـينه د زړه ښکار دې وکړ

زه يې ريښتيا کـړم در پـه دره ګلـي!
هسـې چـتې د ناز ازار دې وکـــړ



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

ستوري دې ورکړل خال دې واخیستو تړې
اسمـــانه! چـل زمـا پـه یـار دې وکـړ

هسې هم روږدی یې زړه ، خیر دی کـه نن
ان تـر سهـاره انتـــظار دې وکـړ

اوس (انالحق) څه؟ تا بـه هلـتـه منم
چـې دغـه غـږ پـر سـر د دار دې وکـړ

واک دې د خولې نور فضلیـار ته ورکړ؟
دومـره بـاور او پـر مـا خـوار دې وکړ؟



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

پام زړه! چې دې ژوند لکه ګنډې نشي
بیا د یو چا یاد درنه چاپېر نشي

کله څوک د یار رضا موندلای شي؟
څو پورې له خپلې رضا تېر نشي

هیڅکله فراق ورته ونه وایې
ژوند چې دې سور اور، خواړه ګنډې نشي

زړه! څه چې دې خوښه وي، کوه یې خو
پام کوه چې رب درڅخه هېر نشي

وامې وربدل ودې ویل هجر ته
پام چې فضلیار درنه کوشېر نشي



***

د خپل نامه په خوا کې (ګل) لیکي
زما د نوم سره (بلبل) لیکي

زهرو او شاتو نه جوړ لیک رالېږي
چې یو سلام او یو کنځل لیکي

د وخت قلم د هغه چا پر تندي
چې ډېر وژونکی وي ، اتل لیکي

زه قافیه او ردیف نه پېژنم
د وطن غم پر ما غزل لیکي

زمونږه هر ګاونډی خپل پلان کې
پاس د (چور) لفظ لاندې (کابل) لیکي

توری د (یار) په (فضل) خومره ګران دی
په ځان پسې یې متصل لیکي.



***

ستا د مستۍ او نخرو څه کمی دی
د اباسین د څپو څه کمی دی

څله مې زړه باندې داغونه پوښتې
د یخ پر مخ د خولو څه کمی دی

زما غوښتنې که هر څو ډېرې دي
دا ستا په خوله د پلمو څه کمی دی

وایه د جنګ که د ورانیو وکړم؟
زمونږ د ژوند د کیسو څه کمی دی

دلته یې توپ او تانګ جوړه غږوي
په دې وطن د نغمو څه کمی دی

صرف ماتول یې زده کوه پی مخې!
تاته د زړه د ښیښو څه کمی دی

د فضلیار بې پروا خیاله! پام کړه
دلته د دار زولنو څه کمی دی



***

زړه ته يې زما چې زولنې نه کړې
لنډې لنډې زلفې دې اوږدې نه کړې

ولې هسې خون د مين زړه اخلې؟
پام کوه چې شونډې دې بيا سرې نه کړې

هسې خو راځې نه تر څو پورې چې
هيلې مې په زړه باندې ورستې نه کړې

زه اوس اموخته يم خوله په زور اخلم
ګوره چې دې ځان بې حوصلې نه کړې

نور مې په مات زړه چې لوبې ونه کړې
هسې نه چې ځان وربانديې پرې نه کړې

غېږ ته د جانان به ور ونه رسې
څو چې فضلياره شپې رنې نه کړې



***

څنګه به لـه مـا دومـره ارزانه تـه؟
سـتا عِشْق بـه د سـر پـه بیه مـانه تـه؟

دا خلک دې مونږ ته دُعاګانې کړي
مونږ که نه وای روس تر هندوسـتانه تـه

کان د زمــرودو خپلــه هــم ژړل
کلـه چـې وتـو لـه بدخـشانه تـه

ولـې دې افغـانه دومـره ژر پرېښود
سـتا دُښمـن روان و لـه جهـانه تـه



پاس فضا کې هم افغانان شته که څه؟
څنګه د باروت بوی له بارانه ته؟

راغلې خو له تللي دې ونه پوښتل
ولې له دې خاورې پښېمانه ته؟

مخه مې د (آه) تا ولې ونیوه؟
ستا له لاســـه ان تر اووم اسمانه ته

هسې دې غزل د فضلیار تم کړ
دا خو تر حمزه او تر کاروانه ته



***

قـــد د صـــنوبـر لـــري دلـــبر ربـه
حسن لکـه لـمـــر لـــري دلـــبر ربـه

خلک يې بـانه بولي خو سترګـو کې
ســم لکـــه خنـــجـر لـــري دلـــبر ربـه

دا چې بې له وېرې ځي راځي دلـتـه
ځـان بـاندې بـاور لـــري دلـــبر ربـه

تـېر شي لـه ټټر زړګـی سـوری کاندې
څـومـره خـوږ نظـر لـري دلـبر ربـه

زړه نـه دی ، لـه تکـو تـورو تـيرو نـه
جـوړ سـيـنه کـې غـر لـري دلـبر ربـه

داسې نه چې صرف همدا بې رحمه ده
دغـــه شـــان ټـبر لـــري دلـــبر ربـه

ورحـــمـــېرې تـه پـر فضليـار بـاندې
زښـــتـه ډېـر خـطـر لـــري دلـــبر ربـه



***

پکې پیدا که د ژوند شور جانانه
جوړ که زما په زړه کې کور جانانه

لړه په شونډو کې مسکۍ غوندې شه
لړ مې زخمي زړه که ټکور جانانه

لړي کړه نوره دنداسه له خولې نه
پر زړه مې مه بلوه اور جانانه

راځه د شرم له هسک غره راټېر شه
راشه په زړه مې شه راخور جانانه

ځار دې شي زر ښایسته او سل غنمرنګ
له تانه ای زما تک تور جانانه

په یو نظر چې زړه دانه وانه کړې
رب دې اوبه کړه دغه زور جانانه

فضلیار مه وژنه په پښه چاړه
ورپسې راوړه دا ځل لور جانانه



***

کله د ادم د رباب ترنګ شمه
کله د ابدال د توري شرنګ شمه

کله غلیمان په ماته سر کړمه
کله خپلو وینو باندې رنګ شمه

شا مې د میدان په لوري نه شوله
مخامخ روان شمه غورځنګ شمه

زه د چا اتوم بم ته احتیاج نه یم
ځار د خپل ولس له نام او ننګ شمه

زور دعقیدې مې خدایه کم نه کړې
هسې نه چې هر ډګر کې رنګ شمه

سرومال مې دواړه له وطنه ځار
خبر که په دې لاره کې ملنګ شمه



وخت د ضرورت کې به توپک اخلم
نور به مل د ببل او د کولنګ شمه

زه پښتون زلمی اوس پوهېدلی یم
غواړم چې په پوهه کې هم دنګ شمه

مال او متاع رنګ د ژوندون نه ګڼم
مینه کې چې پرې شم نو بدرنګ شمه

غواړمه ملګرو فضلیار غوندې
ښکلو ته په غاړه کې لونګ شمه



***

شا او خوا زما د سترګو اوس رنه ده
یکې بله چې دا ستا د مخ ډیوه ده

د نړۍ منظرې ټولې مې شوې هېرې
ستا د سترګو څومره ښکلې منظره ده

په نخرو د پېغلو ډله کې روانه
دا د سرو کالو جلۍ څومره خوږه ده

راځه مه ځه یو سات کېنه د یار یاده!
سهار لرې دی تر اوسه نیمه شپه ده

د خپل وران کابل ښکلا چې مې لیدلې
د نړۍ له نورو ښکلو مې توبه ده



ستا د مینې شنې نښترې پرې ولاړې
څه سرسبزه مې د شوخ زړګي دره ده

د کابل شار شویه ښاره! زیری زیری
ستا د پېغلـو ډلـه ببـرته راستنه ده

فضلیـاره اوس په مینه ښـه پوهېږي
خلک هسې درتـه وایـي چې وړه ده



***

سخت شولو ګوزران، چې دا به څنګه شي
نه راځي جانان ، چې دا به څنګه شي

زه درته پر ځمکه انتـــظار کړمه
ته شوې د اسمان، چې دا به څنګه شي

لوتې لوتې خاورې دې کړ، وران دې کړ
زما د زړه جهان، چې دا به څنګه شي

خلک د ژوندون په خوند مړېږي نه
مونږ ورته حیران، چې دا به څنګه شي

بس د مرچو څټه باندې ناست دي ټول
زور دی او که ځوان، چې دا به څنګه شي

ښه او بد نه ګوري فضلیار مني
ستا هر یو فرمان، چې دا به څنګه شي



***

پربږده ستا په سینه خور لکه ټیکری شم
د دې غیرو خلکو سترګو کې اغزی شم

ستا لومړی خندا شپېلی د اسرافیل وه
یو ځل بیا وخانده شاباس چې ژوندی شم

سپېلنی یم خو د ښکلو وچکالي ده
ربه ! یو ښکلی پیدا کړې چې لوګی شم

لېونی شم په ځنځیر نه سړی کېږم
خو چې یو سوك د یار وخورم نو سړی شم

سل ګیلې او زر غوښتنې مې وي زړه کې
خو چې تاته درنږدې شم نو ګونګی شم

د ماشوم غوندې مې نور غېږ کې وانخلې
راځه ته غېږې ته راشه چې زلمی شم



***

کله هر وخت کله لږ تم درځمه
د وخت له دوده سره سم درځمه

د ګل په وار بورا دی کله منعه؟
ته مې ښکنځه زه به بیا هم درځمه

د سینې لار دې راته خلاصه پرېږده
د زړه کعبې ته په حرم درځمه

ګله ! که شا او خوا دې ټول اغزي شي
زه نیمه شپه سپور په شبنم درځمه

د بې شرمیو پلیټیو نه پاک
لکه پښتو ، لکه زمزم درځمه

چې مې په قدر باندې نه پوهېږې
خیر فضلیاره نور به کم درځمه



***

له هر کار نه یم وېستلی د یار سترګو
په زړګي یمه ویشتلی د یار سترګو

ساده سترګې مې په جنګ کله پوهېږي
هر میدان ترینه ګټلی د یار سترګو

څه دوه ، درې او یا څلور واړې خو نه دی
په بار بار یمه رټلی د یار سترګو

نه پوهېږم چې کوم عیب، اخطار او ډاردی
زما سترګو کې لیدلی د یار سترګو

دا چې اوښکې مې له سترګو نه بهېږي
دغه حال رالوړلی د یار سترګو

فضلیار ته بل چا هیڅ ویلي نه دي
دا له کلي راشړلی د یار سترګو



***

ته که د بل شي ژوند به څه شي یاره
ګومان مې نه شي چې دې وشي یاره

پرته له تانه خو سپرلي هم ګوره
خزان خزان سپېره سپېره شي یاره

ژوندکې به داسې وخت هم راشي کله
چې مې د زړه داغونه ښه شي یاره؟

تول ارمانونه د نهیلي ژوند مې
په ځورېدو ځورېدو مړه شي یاره

خپله یې نه غواړې که ویې غواړې
کور به ویجاړ د بېلتانه شي یاره

زړه چې مې چا کې صمیمیت وګوري
نو تول خواص یې د واړه شي یاره

چې فضلیار کله ستا سوچ کې لاړ شي
نو یې خولګۍ اوبه اوبه شي یاره



دالی: خپل مشر تره مولنا محمدادریس (حقاني) ته! چې په
دې ترخه وخت کې مې دېرې خورې شپې ورسره کړې

***

روح، زړه او جسد مې لور په لور شول نور
یو یې د اسمان دوه یې د ګور شول نور

تور زما د سترګو ولې نه راځي؟
سپین زما د سترګو پسې تور شول نور

ای د ژوند اسرې! پرته له تانه خو
خوب،خوراك او څښاک راته پېغور شول نور

بس دی فضلیاره په ژوند څه کوې
بخت او تخت دې دواړه رانسکورشول نور

ککړك



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

تا نه ډېر جانانه بل څوک نشته دی
نه پاس په اسمان او نه په ځمکه خوږ

ماته مې چرسي لالی رایاد کاندي
بوی د چرسو لګي پر ما ځکه خوږ

دوی وایي جانان دې نمک نه لري
زړه وایي جانان دی بې نمکه خوږ

وپوښتل یو چا چې پښتانه ولې
نه ګڼي بل هیڅ څه تر توپکه خوږ؟

بیا هغه خبر وکړه چې وېل به دې
دا د ظالم زوی دی بې درکه خوږ

یاره فضلیاره فکر نه کوم
بل به نو کوم ځای وي تر (ککړکه) خوږ؟

پاس پېچیږ



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

ارمـان ارمـان سـاتـل يـې نه پېژني
ښکلـي فقـط د زړونـو وړه پېژنـي

ددې مهـال يـاران الـفت څه کـوي
دوی خـو فقـط پيـسه او سـره پېژني

زمـا پـه زړه کې يـې عمـرونه تېـر کـړل
خـو مـا تـر اوسـه پـورې نه پېژني

زما غـريب چې صيب ، جناب نه دی زده
نـو ريښتيا څـوک بـه مـا پـه څه پېـژني



***

بې له مینې چې ناشوني ده، دې چم کې
بلـه هره ګـناه شـوني ده، دې چـم کـې

مینه ستا مې په زړه نوې روږدې نه ده
دا بـلا ډېره لـرغـوني ده، دې چـم کـې

دا د زړه دا مینه ناکه شان مرغۍ مې
له تعجبه غوني غوني ده، دې چم کې

دا چې وایي مـینه جـرم دی ګناه ده
دا وینا بالکل ریښتوني ده، دې چم کې

د الفت د ښاپیرۍ خدایه ته مل شې
ډوبه شوې نور تر ستونې ده، دې چم کې

فضلـیاره ته یـو چـا تـه خـواږه ګـورې
دا خـبر ګوره مرګـــونې ده، دې چـم کـې

ککـړک - سـړه رود



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

زړه کې مې دواړه روح او وينه لا شته
يکې ستا ياد يکې ستا مينه لا شته

چېرته به زړه شي له دې کلي صبر؟
چې يکې هاغه نازنينه لا شته

بچي د کرکې ننګرهاره وايي
څنګه تر اوسه دلته مينه لا شته؟

راشه په خپل رنګ يې رنګينه کړه نور
د ژوند په پانو کې مې سپينه لا شته

يو فضليار دی چې بې مينې ګرځي
که دلته بل څوک هم بدبينه لا شته



يوې لانجمنې ښاپيرې ته!

***

يوازې ستا خو نه دي ډېرې دي يار
لانجې بېخي له حد نه تېرې دي يار

د څو بدرنګو او ترخو له لاسه
خوږې خبرې رانه هېرې دي يار

نيمه په کور نيمه په بند کې والله
مياشتې د ژوند مې داسې تېرې دي يار

اوسني وخت کې او ريښتينې مينه؟
دغه خبرې پخوا تېرې دي يار

ستا د سيالۍ پکې څوک نشته ګڼي
جينکۍ دلته کې هم ډېرې دي يار

د زړه له غوښو مې تر اوسه پورې
ستا اداګانې لا چاپېرې دي يار



***

ښه يې سپک لکه د خلي که جانانه
رقـيبان مـې غلـي غلـي کـه جـانانه

دا سـپېرو سـپېرو وختـونو پسې راشه
پسـرلي غـوندې يـې ښکلي کـه جانانه

ستا پيکي ته زما زړه خدای پيدا کړی
سـيخکي تـرښـنه راکـــولي کـه جـانانه

خير د زړه له يو څه وينو څخه تېر شه
يـوه سـمــه غـــزل وليـکـه جـانانه

فضليار د خپلـو بدو بخښله غـواړي
تـرمې اوښکـي يـې قـبـولـي کـه جـانانه



دالـی: د خوګیانو په لوخی کې د ملك محمد قیاس دمرنې کورنی ته، چې پر جلالکوټ د امریکایي بمبارۍو پر مهال یې دېرې سنوزی په ومرین تندي ر اسره ګاللې وې.

***

خپلواکي مې د خپل قام راڅخه غواړي
له غلیم نه انتقام راڅخه غواړي

باغي روح مې د بدن قفس کې تنګ دی
د وحشت پر ضد قیام راڅخه غواړي

ننګ غیرت مې پېغورونه راکوي تل
هغه خپل شهید امام راڅخه غواړي

عجیبه ده چې تقوا په چا کې نه وي
هغه څنګه احترام راڅخه غواړي

فضلیاره مقتول زړه سره څه وکړم
د مسیح د خولې سلام راڅخه غواړي

لندی-خوګیانی



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

زخمي دي نه کړي يـاره په قسـم دی خــطرناک
تنکی مـخ دي تري ساته چې شبنم دی خــطرناک

يو وخت به مې شي زړه ټوټـې ټوټـې هوا ته پورته
يو څوک يې مينځ کې پروت لکه د بم دی خـطرناک

حيران يم چـې دي څنګه دا مغــــروره دلاسا کړه
ملا صاحب! د ځان په څــېر دي دم دی خطرناک

بس ټک پسې بل ټک شي په زړه غبرګ ټکونه راکړي
هر نـاز يـې په والله لکــه لــــړم دی خطــــرناک

وېرېږم د چا يـاد يې ريښې غوڅې نه کړي خدايه
هر وخـت د فضلـيار زړه تـه اړم دی خطــرناک



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

نا آرام زړه مې آرام راځخه غواړي
یاره ستا د شونډو جام راځخه غواړي

ستا لیدو سره نن ونه لړزېدلو
زړه مې ځکه اوس انعام راځخه غواړي

یا مرګی او یا جانان، لاسلیک دې وکړه
مینه داسې استعلام راځخه غواړي

د زړګي مې بله هیڅ غوښتنه نشته
ستا یادونه تل مدام راځخه غواړي



ژوند مې یوځه، تن مې بل څه، روح مې نورځه
یـاره! ښـه بـد دې تمـام راځخه غـواړي

ډېرځه شته چې خوښ مې نه دي ، خو یې وایم
هغـه ټول مـې خـپل عـوام راځخه غـواړي

تـه دا زړه ، دا سـتا د زلفـو مـېن ګـوره
لـېونی پـه خـپلـه دام راځخه غـواړي

یـار بـه څنګه شـي؟ دا زړه یـې فضلیـاره!
هـر سهـار او هـر مـانښام راځخه غـواړي





***

بس ډز ته وي تیارې دواړو غبرګو کې مرمۍ
جانان همېشه ګرځوي په سترګو کې مرمۍ

یو وخت دلته تېر شوی چې نښتې به وې خدایه
په ونو، انسانانو او په چرګو کې مرمۍ

د ښو او د خوږو تورو پر ځای پکې پرتې وي
په خولو د ځینو ځینو غنمرنګو کې مرمۍ

د وس یې خدایه نه یو په خپل فضل یې کړې شنډې
دا پورته الوتکو ځوانیمرګو کې مرمۍ



***

ته چې لاړ شې ستا یادونه نور هم ډېر شي
دا درواغ دي "چې څه تېر شي هغه هېر شي"

که پلو دې کړ تري لرې ، لمر به خوار کړې
ټول شمسي نظام به ستا له مخ چاپېر شي

پر دې خوار زړه مې هیڅوک بریالي نه شول
چاته ترې د تورغـــر چاته پنجـشـېر شي

څه یوه ورځ خو مې نه ده، تل دا حال وي
څو زه لاړه ورتـه نیـــسم جـانـان تېر شـي

پر کابل د وحـشـت دور راپه یـاد کـړي
د یـار یـاد چې مې لـه زړه څخه چاپېر شي

دا څو ببته بـه پـه خلکـو کـې ژوندي وي
فضلیار بـه لـه یـارانو څخـه هـــېر شي



د فضلیار لومړنی غزل تولګه

***

بې پوښتنې بې سلامـه راغی نېغ څوک
په زړګي مې راداخـل شـو لکـه تېغ څوک

د همـدې لـپاره خـدای مونږ ته راکـړې
سر به نه کړي ای وطنه له تا درېغ څوک

خـدای مې یـار ته هسې سترګې دي ورکړې
لکه ورکړي سپین ښامار ته لاس کې تېغ څوک

فکر نه کـړم که جنت کې یې سات تېر شي
چې یو ځل د یـار په مـینه کې شي دېغ څوک

لکـه زه چې یـې د زړه وینـې ورزېښـم
دې مجلس کې راته ګوري داسې تېغ څوک

فضلیـار بیخـي لـه ځـانه خـبر نه و
خو په زړه کې یې بیا ناست و اېغ و بېغ څوک



درانه استاد ناکام رته!

***

روسان پر ټوله لاره، کوي خلکو ته کيسې
افغانه! ستا له ډاره، کوي خلکو ته کيسې

پکول که مې نړۍ کې،د مېړانې يو سمبول دی
لونګۍ مې هم چلتاره، کوي خلکو ته کيسې

يو وخت به يو شمېر خلک، په ننبتو اوازونو
د غرب په هره لاره، کوي خلکو ته کيسې

که اوس دې هغه تېر وختونه نشته پروا نه کړي
غزلې دې ناګاره کوي خلکو ته کيسې



***

دا جلـی مـې پاس په بلـی خـو ځلـې لـیدلـې ده
مـا خـو پـه خـطـر کـې نـړۍ خـو ځلـې لـیدلـې ده

دروغ وایي د ځـان د سـپـېځـلـتـیـا په هکلـه دروغ وایي
(لـمـر) سـره مـې وربـځ کـې (سپوږمی) څو ځلې لـیدلـې ده

مـور دې راتـه غلـه ښکاره شي ستـا سترګې چې ووینـم
مـا یـوه بـې سـتـرګـو هـوسـی خـو ځلـې لـیدلـې ده

خـدای خـبـر چـې ولـې یـې ښـېـراوي هـیڅ قـبـلـیـږي نـه
رب تـه په سـجـده مـې څـېـړی خـو ځلـې لـیدلـې ده

پـام چـې فـضـلـیـاره د طـالـب په نـوم مـنـکـر نـشـې
سـتـا په سـر مـې سـپـیـنـه لـونـګـی خـو ځلـې لـیدلـې ده

